مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

ژباړه: سمسور ودان

۲۰۲۶/۰۵/۱۰

# د فیض احمد فیض حوصله

د اردو ژبې د لومړي صف شاعر (فیض احمد فیض) ډېره لویه حوصله لرله.

نوای وقت ورځپاڼې يې په اړه اوږده موده بد رد لیکل. ملګرو يې ورته وویل:

دا سراسر زیاتی دی، شکایت يې وکړه، خو هغه به لنډه موسکا وکړه یا به يې وویل چې:

دا د هغوی خپل نظر او حق دی.

فیض صیب کې ډېرې نورې ځانګړنې هم وې. یو يې شرافت او وقار و. د نوای وقت د دومره تنقیدونو باوجود هغه له ورځپاڼې سره په ارام زړه مرکه وکړه او هغو خلکو ته يې هیڅ و نه ویل چې ده ته يې ښکنځلې کولې.

یو چا ورته وویل:

حفیظ صیب ستا په اړه ډېر بد رد وايي، لږ خو يې د خولې خوند ور سم کړه.

فیض صیب ځواب ورکړ:

که د یو چا کار موږ ته په بدو ردو جوړیږي، یا زموږ په غیبت څه ګټه ور رسیږي، نو دې کې زموږ څه تاوان نشته.

اقتباس: د قتیل شفائی ژوندلیک "گھنگھرو ٹوٹ گئے" څخه

ژباړه



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ